مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۲۷

# لکه ته

یوه عجیبه شان شیبه وه لکه ته داسې وه
د خدای د نور یوه لمبه وه لکه ته داسې وه

ما ویل حوره ده، جنت کې وم، حیران وم ورته
راغلې خوب ته مې یوه وه لکه ته داسې وه

زه چې ماشوم وم، باغ ته ډیر تلم، اوس مې لړلړ یاد شي
هلته لیدلې مې منه وه لکه ته داسې وه

د قاف په غرو کې ښاپیرۍ وې، تاته نه رسیدې
خو یوه ډیره ښایسته وه لکه ته داسې وه

شهزادګۍ راغله زما ترڅنګ کیناسته، بیرته ولاړه
د دې هم کورته تلوسه وه لکه ته داسې وه

زړه ته مې راغله، له هغې ورځې زړه بل ډول دی
څریکه د درد وه خو خوږه وه لکه ته داسې وه

۲۱/ ۱۲/ ۱۳۹۳
کابل- نوی ښار
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ